SDVLP
SAN DIEGO
VOLUNTEER LAWYER PROGRAM



# د کرایه کونکو دحقونو پروګرام

## د کرایه کونکو دحقونو پروګرام

د کرایه کونکو د حقونو برنامه (TRP) د ټیټ عاید کرایه کونکو او د دوی کورنیو ته د ویستلو مخنیوي او د کور ثبات باندې تمرکز سره، حیاتي، قانوني مرستې وراندی کوي.

---

**آیا تاسو د خپل کور مالک سره ستونزې لرئ؟ د کرایه کونکو دحقونو پروګرام TRP کیدای شي  تاسو سره مرسته وکړي، که:**

- ستاسو د کور مالک تاسو ته د ۳۰/۶۰/۹۰ ورځې خبرتیا درکړي چې ستاسو د کرایه قرارداد پای ته ورسوي (په محکمه کی د شکایت ثبتولو دمخه).
- وروسته له دې چې تاسو له کوره وتلی یاست، آیا ستاسو د کور مالک ستاسو ځیني او یا هم ټول امنیتي زیرمې(Deposit) بیرته نه دي راستانه کړي.
- ستاسو د کور مالک ستاسو کرایه زیاتوي.
- تاسو معلولیت لرئ او اړتیا لرئ چې د یوې قاعدې یا پالیسی څخه د استثنا غوښتنه وکړئ(مناسب استوګنځی)
- تاسو د سان ډیاګو په ښار کې کرایه کوئ او ستاسو د کور مالک تاسو ته د کور د خالي کولو لپاره پیسې درکوي(د "کیلي لپاره نغدي" یا "د پیرودلو" تړون) په نوم.

---

د دې معلوموملو لپاره چې آیا تاسو زمونږ مرستې لپاره وړ یاست، مهرباني وکړئ آنلاین درخواست ورکړئ (https://sdvlp.org/landlord-tenant/) او یا هم لاندی شمیرې سره اړیکه ونیسئ

(619) 235-5656 x127